

# د سولې سفر

شپاړلسمه کېسه

دوهم چاپ

# د راتلونکي جوړول

**ليکونکي:**

داکتر جوانا سنتا باربارا
مارى- جو لند
داکتر گرايم مک کوين
کيون آرتر لند

ديزاين: يار محمد تره کی
انځورکونکئ : يارمحمد تره کي

*ژباړونکي: ثريا سديد او محمد يوسف جبارخيل*

موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

## كيسې او د ښوونكي لارښود په لاندې ويب سايتونو كې شته دئ:

[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)

او

[www.htac.org](http://www.htac.org)

ددې کیسی کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمویل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

شپاړلسمه کېسه

**دوهم چاپ**

# دراتلونکې جوړول

لیکونکې:

داکترجوانا سنتا باربارا

ماري- جو لند

داکترگرایم مک کوین

کیون آرترلند

دیزاین: یار محمد تره کی

انځورکونکئ : یارمحمد تره كي

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي : ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله:** دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا:** دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنۍ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو ترور او دیونس کاکا ځوانه کونډه

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکيسې لنډيز :

جميله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په يوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي او هغه يې لا هېرې شوې نه وې چې يوبل مصيبت ورباندې راغی . يونس کا کا چې په ځمکه کې يې کار کولو،يوماين پرې والوت او هغه يې وواژه اوپلار يې ،ميرزا، يوه پښه له لاسه ورکړه .

**دجميلې دسوغات په کيسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې ديوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشويش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران يوملګري ته کلک ګذاروركړى دئ اودهغه په شخصيت اوسلوک يې بدلون راوستى دى . دجميلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په يوه ځانګړې طريقه دهغې درملنه وکړي په دې کيسه کې ځاي شويدي .

د **بی بې جان د هوښياری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د يوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشويش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د يوملګري روغتيا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصيت او سلوک کې يې بدلون راوستی دئ، د جميلې د ويرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په يوه ځانګړی طريقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجميلې ددردونو اورنځونو څخه حکايت کوي . هغه ماين دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماينوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جميلې سره مرسته کوي اوجميله له همدې وخت څخه په ګټې اخيستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې يوآغېزمنه لارپيداکړي چې دهغې په وسيله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته ديونس کا کا دمړينې له امله پيداشوی دئ په خپله ژبه ووايي .

**دميرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجميلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهيږي ، دميرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه يې دومره غمجن کړيدئ . جميله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاريې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې وو . پلاريې داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يې زده وې . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولې ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی وو . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندی کوي

**د يونس دسندرې په کيسه کې**، احمد او جميله د فاطمې غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونډه وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي. هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چې يوځای کې راټول شي او هغه خوږې خاطرې چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکیودویشتلو باران جوړ شو، کورنی له دې ډارونکي واقعیت سره مخ شوه چې باید خپل یو ګران شئ چې هغه ددوی کور و ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحیې ځخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهیږي چې باید له زړه ورتیا ځخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د یونوي ملګري په کیسه کې** دمیرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسیدلو ځخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دمیرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دمیرزا ددغه دوست په کور کې عبداله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږیږي اویادبل مذهب پیروان دي دقضاوت کولو یو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ینی په کېسه کې** کله چې د جمیلې کورنی د ښار په لورې ځي، عبدالله ولیدل چې جمیلې له کوره ځخه خپله پیشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشی له جمیلې ځخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته یې ور غورزوي. جمیله په ورور باندې په قهر ده او داسی ځان ښیي چې ګواکې وروړنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره یوه لاره ومومي.

**دمیرزا دقهر په کیسه کې** میرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکاردده دکوچنیانو ، جمیلې اواحمد ، دوېرې اوډارسبب ګرځي . دمیرزا عصبي کیدل دهغه په کوچنیانو ناوړه اغېزپرېږدي اودادې لامل ګرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رویه اختیارکړي . احمد چې پټ شوی وودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې ناآرامی په هکله غږېدل چې میرزاته دده دپښې دغوځېدو له کبله پیداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی وو دازمینه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ یوځل بیااړیکې سمې شي .

**د سولې او پخلاینې په کېسه کې** د بي بي جان عالمانه مهارتونه یوځل بیا ازمویل کیږي. هغوی په دې لټه کې دي چې د میرزا دورو کور، علی او مېرمن ئې چې په ښارکې هستوګنه لري،پیدا کړي. دوی مخکې له دې چې د علی کورو مومي، د کډوالو په یو کیمپ کې چې دا کیمپ په یو زاړه ښوونځی کې جوړ شوی وو ځای په ځای شول. کله چې د میرزا کورنی خپل موقتي ژوند په دغه تنګ ګوټ کې پیل کړ، عبدالله له یو کوچنی هلک سره په دې خبره چې هغه خپل بایسکل د نور ود اوسیدلو په ځای کې درولی و جنګ وکړ.

**دعبدالله او د لوړ قدې سړي په کېسه کې ،** عبدالله له یوې اونی راهیسی له خپل فامیل سره د کاکا په کور کې اوسیږي . هغه ډیره سخته تبه لري . هغه مخکی له دې چې ویده شي ، د کوچنیوالي د دورې هغه هیلې او ارمانونه په یاد راولي ، چې غوښتل ئې ، کله چې غټ شی د عسکرې خدمت ته به ځی هغه په خوب کې یوقوی هیکل لرونکی عسکر په داسی حال کې وینی چې نوموړی په مارکیټ کې دی اوله ده سره د جنګ د واقعیتونو په اړه خبرې کوي.

**د نوی ژوند په کېسه کې** جمیلې له خپل کاکا، علی او ترور، عایشی ، سره ویپژندل او دا پیژندنه د دې لا مل شوه چې هغه اوس له کور ځخه دلرې والي غم نه احساسوي.هغه اوس خوشحاله برېښي . خو بیا هم کله چې حلیمه دې ته وایي چې ډېر ژربه خدای پاک یو ورور یا خوروركړي . هغه د دې خبرې په اورېدلو ډېره خوابښنې کیږي. دا ځکه چې د دوی ژوند ډېر

تیت او پرک دئ اوثبات په کي نشته خو مورئي پوهوي او ورته وائي : " د ماشوم زېږول د لوی څښتن تعالی له نعمتونو څخه یو نعمت دئ چي خدای  پاک ئې د دوی نصیب ګرځوي.

**کورته د ستنېدلو کېسه** هغه وخت پیل کېږي چي د میرزا کورنۍ له یو کال څخه وروسته خپل کورته ورګرځي . کله چي د هغه کورنۍ د بیرته ستنېدلو لپاره ځان چمتوکوي ، هغه اختلاف چي لا تراوسه هم د حلیمي او فاطمې ترمنځ شته دی په روښانه ډول لېدل کېږي .

**د حلیمي او فاطمې ترمنځ اړیکی** ددې کېسی اصلی موضوع ده . کورنۍ د دوهم ځل لپاره کلی ته ورګرځي . علی او عایشه هم له هغوی سره ځي او یو څه موده د میرزا له کورنۍ سره په کلی کې پاتې کیږي . ناڅاپه د حلیمي ماشوم پیداکېږي . فاطمه د قابله ګۍ له مهارتونو څخه ګټه اخلي او د ماشوم په زیږیدلوکې مرسته کوي . له ډیرو ستونزو سره سره فاطمه توانېږي چي د حلیمي او دهغې د ماشوم د روغتیا پالنه وکړي . د فاطمې مرسته ددې لامل ګرځي چي حلیمه د لیوره ښځې سره بیرته پخلا شي **د سفر د پای ته رسیدلو په کېسه** د درملني پړاونه او د هغو اړیکو ښه کول چي په یوه کورنۍ کي وجود لري په روښانه ډول ښودل شوې دي. دا کېسه د بي بي جان په خوب لېدلو پیل کېږي او د بی بی جان هغو اند ییښنو ته چي د کور دودانی په اړه ئې لري ګوته نیسی. کله چي کورته راستنیږي ویني چي د دوی کورته ډېر زیان نه دی رسیدلی. هغه وخت چي دوی کورته راستانه شول اوکله چي د لومړی ځل لپاره ټول په یو دسترخوان د ډوډۍ خوړلو لپاره راټولېږي، دوی پوهېږی چي کوم شیان په رښتیا د دوی لپاره ډېره مهم دي.

**د راټلونـکي جوړولو کېسه** کلي ته د کورنۍ بیرته راستنیدل او د کلي د کورونو د بیا جوړولو چاری تمثیل کوي .

د کلي ټول خلک په ګډه سره د کلي شورا جوړوي او بیا وروسته د کلي هغه کورونه چي ویجاړ شوي دي بیرته ودانوي . ددې لپاره چي خلک بیرته عادي ژوندته راوګرځي  اوسره یوموټی شي عبدالله له نورو سره په ګډه دبیا رغاوني ډله ایز فعالیت شروع کوي . او په بل قدم کي د خپل ځان د پرمختګ لپاره کارکوي چي دا کارئې د خور او ورور د تحسین او ستاینی وړ ګرځي .

د کېسی وروستنی پړاو ښیی کله چي دکلي خلک د کور په جوړولو بوخت وي په ګډه دخوښی بیتونه وائي .

**د درملني عنصرونه** : بیا رغونه ، خندل او خوښي

**د سوله ایزه کړووړو لپاره لاربښووني:** سخاوت ، مشارکت ، بخشش له نورو سره مرسته ، همکاری ، شوخي ، د ښه کړو ستاینه او پېژندنه .

**ستونزی :** د ویجاړتیا زغمل

**د درملني لارې:په** ګډه کار او د بیتونو ویل .

# د راتلونکې جوړول

له یو کال بې ځایه کیدلو څخه وروسته ، د کورنۍ ټولو غړو ، نېکه ، انا ، پلار،مور، ترېندو ، کاکا او کوچنیانو ، په خوراجدیت کارکولو چې خپل کور بیا د پخوا په شان ښه جوړ کړي او دوی په کښې ځای پر ځای شي . له هغې ورځې راهېسې چې جنګ کلی وران او دوی خپل کور پرېښود کړ تراوسه پورې ډېرې پېښې رامنځ ته شوې دي چې دوی ته ئې موده تر یو کال ډېره اوږده ښکارېږی ..



عبدالله ، جمیله او احمد کورته د بیرته ستنیدلو له کبله ډیر خوشحاله وو. کورئې ډیر لږ زیان لیدلی وو . خو دکلې نورې کورنۍ د دوی په څیر طالع لرونکې نه وې ځکه د هغوی کورونه ډیر زیات ویجاړ شوي وو .

جمیلې وویل:" مورې ! زما ملګرې شازیه ددې له امله چې کورئې ډیر وران شوی دی د ګاونډي په کورکې ژوند کوي او تقریباً هیڅ کالي نه لري . ایا زه خپله یوه جوړه جامې هغې ته ورکړم ؟"

مورئي ځواب ورکړ:" ګرانې ! ته خپله په پوره اندازه جامې نه لري ، خو که غواړې چې څه ورکړې ، ورئې کړه ."

عبدالله کورته را ننوت وئې ویل :" ټول کلي کې وګرځېدم درې کورونه په بشپړه توګه وران او پنځه ئې ډیر زیات تخریب شوي دي . د ډیرو کورونویوائې ځنې برخې ویجاړې شوې دي . مونږ نیک مرغه یو چې کورموډیر زیان نه دی لیدلی . زه نه پوهیږم چې دانورې کورنۍ به څه کوي . ځنی کورنۍ زمونږ په شان بیرته کلي ته راستنې شوې دي .

احمد وویل : " ښائي چې کوم قوي هیکله کوډګر راشي ، ختې واخلي او د بریښنا په څېر خښتې واچوې او وران شوې کورونه د دوهم ځل لپاره په ډیر ښکلې ډول بیرته ودان کړي اوداکوډګر په خپله غټه ګوته د بخارۍ لپاره ددودوتلویو سورې وباسي ..."

د احمد د وینا په اوریدلو ټولو په هغه وخندل . هغه د قوی هیکله سړي حرکتونه تمثیلول او د تلو په وخت کې ئې درانه ګامونه اخیستل .

عبدالله د دوهم ځل لپاره له کوره ووت تر څو چې وران شوي کورونه وګوري په ځینو کورونو کې یو یا دوه سړیو درز شوي دیوالونه ویجاړول .

عبدالله د مکتب خپل دوه ملګري ولیدل چې هغوی دواړو یو بل سره په هغه څه خبرې کولې چې د یوکال په موده کې په کلی تیر شوی وو . هغه ګړي چې دوی خبری کولې څه کسان ئې ولېدل چې په ډیرې خوابښینۍ د دیوالونو په ویجاړولو بوخت وو. د عبدالله ملګری مسعود وویل :" ښوونځی تر اوسه پرانستل شوی نه دئ ځکه د هغه تعمیر ډیر زیات بمبارد شوی دی ."

د عبدالله بل ملګري اجمل وویل :" څه به کوو ؟ ګمان کوم چې کورنۍ به ډیر کارونه مونږ ته را وسپاري."

عبدالله پرته له دې چې په نوې دنده ځان مغرور وښیي وویل :" زه به د ماین څخه د خبرداري په یوه پروژه کې درس ورکړم . هغوی په راتلونکي میاشت کې په دې سیمه کې یو دفتر تاسیسوي . کله چې زه په ښار کې وم ما په دغه برخه کې زده کړه وکړه . "



اجمل وويل :" هووو، عبدالله ته خوډير خوشبخته يې . "

عبدالله چې ډير خوشحاله معلوميده وويل : " هلکانو ! دا به ښه نه وي که مونږ يوټيم جوړ کړو او خلکو سره د دوی د کورونو په جوړولو کې مرسته وکړو ؟ دا کار خو کولی شو . ماته مې پلار را ښودلې دي چې د خښتو اچولو لپاره ختّه څرنگه آماده کړم . "

مسعود وويل :" عبدالله دا ډير عالي نظر دئ . زه نورکسان هم پيژنم چې ښايې له مونږ سره په دې کار کې شريک شي . "

په سبا چې دوی يوبل سره بيا وليدل ، ددې ځوانانو شمير اوه تنو ته رسيدلی و . هغوی يو کورته چې ډير زيات خراب شوی و ولاړل او دکور ښتن ته ئې د مرستې کولو وړانديز وکړ. يو غمجن سړی چې په هغه ويرانه کې ئې کارکولو لومړی حيران شو او وروسته ئې په مسکا سره هر يوه ته يو کار وسپاره .

هلکانو په ډير جديت کارکولو . هغوی د کار کولوپه وخت کې د ښوونځی ترانه ويله . د کلي لارويان به ودريدل او هغوی ته به ئې کتل . هغوی په لږ وخت کې ډير کار وکړ او د سړی کور ئې بيرته ودان کړ .

کله چې عبدالله کورته د ډوډۍ خوړلو لپاره راغی د هغه فاميل د ځوانانو د ټيم له جوړيدلو څخه لا پخوا خبر شوی وو . هغوی په دې پوهيدل چې دا ټيم د عبدالله په نوښت جوړ شوی دی .

حليمه د عبدالله خواته چې د کور په دروازه کې ولاړوو ورغله ، هغه ئې په غيږ کې ونيو او بيا يو گام شاته شوه تر څو عبدالله وگوري چې څومره سترشوی او څومره ئې ونه لوړه شوې ده .

اجمل وویل :" هووو، عبدالله ته خوډیر خوشبخته یې . "

عبدالله چې ډیر خوشحاله معلومیده وویل : " هلکانو ! دا به ښه نه وي که مونږ یوټیم جوړ کړو او خلکو سره د دوی د کورونو په جوړولو کې مرسته وکړو ؟ دا کار خو کولی شو . ماته مې پلار را ښودلې دي چې د خښتو اچولو لپاره څنګه څرنګه جوړه کړم . "

مسعود وویل :" عبدالله دا ډیر عالي نظر دئ . زه نورکسان هم پیژنم چې ښایې له مونږ سره په دې کار کې شریک شي . "

په سبا چې دوی یوبل سره بیا ولیدل ، ددې ځوانانو شمیر اوه تنو ته رسیدلی و . هغوی یو کورته چې ډیر زیات خراب شوی و ولاړل او دکور څښتن ته ئې د مرستې کولو وړاندیز وکړ. یو غمجن سړی چې په هغه ویرانه کې ئې کارکولو لومړی حیران شو او وروسته ئې په مسکا سره هر یوه ته یو کار وسپاره .

هلکانو په ډیر جدیت کارکولو . هغوی د کار کولوپه وخت کې د ښوونځی ترانه ویله . د کلي لارویان به ودریدل او هغوی ته به ئې کتل . هغوی په لږ وخت کې ډیر کار وکړ او د سړی کور ئې بیرته ودان کړ .

کله چې عبدالله کورته د ډوډۍ خوړلو لپاره راغی د هغه فامیل د ځوانانو د ټیم له جوړیدلو څخه لا پخوا خبر شوی وو . هغوی په دې پوهیدل چې دا ټیم د عبدالله په نوښت جوړ شوی دی .

حلیمه د عبدالله خواته چې د کور په دروازه کې ولاړوو ورغله ، هغه ئې په غیږ کې ونیو او بیا یو ګام شاته شوه تر څو عبدالله وګوري چې څومره سترشوی او څومره ئې ونه لوړه شوې ده .



جمیله له دې تصور څخه چې هغه به لوستل او لیکل بیا پیل کړي خوشحاله شوه او په مسکا شوه .
بله ورځ هلکانو ډیر کاروکړ . د غرمې په ډوډۍ کې جمیلې ، احمد ، عایشې او فاطمې د چای اوډوډۍ په راوړلو کې مرسته وکړه . هلکانو د دوهم ځل لپاره د ترانې په ویلو پیل وکړ .

هغوی د ښوونځي د ترانې ځینی کلمې بدلې کړی !

جنګ اوردئ ، اور کې هر څه سوزیدلي دي
مونږ لمبه شوي یو خو لاسونه مو روغ شوي دي
ژرشئ او راټول شئ چې کورونه خپل ودان کړو
وخت ددې راغلئ چې پخلا خویندې او وروران کړو
راځئ چې د ستونزو غوټې خلاصې کړو په مینه
کرکه نفاق پرېږدو راتلونکئ په سواد سره روښان کړو
جمیلې ، احمد ، فاطمې او عایشې ډیر ژر د ترانې نوې کلمې یادې کړې او د ترانې په ویلو کې له نورو سره شریک شول . سره له دې چې هغوی یولس تنه وو. خو ډیره د حیرانتیا خبره وه چې ددوی د خوږ غږ آواز له ډیر لرې واټن څخه اوریدل کیدلو .

*******

